




# انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 14 اکتوبر 2015 م

# ترڅو

تر څو به وی د جنګ لوبه روانه په وطن کي
تر څو به کړی وحشيان خپلی چړچی په دي چمن کي
تر څو به وړ ماشوم کوی ژړاپه کنډوالو کی
تر څوبه دا ناولی اوسی غرق په ډک پيالو کی
راځی چه سترګی خلاصی کړو او ترړو خپل ملا
مقصد د ښمنانو کړو بی ډاری بر ملا

نن سبابه ژوند کړی خلک په نورو سيارو کي
صرف مونږ به کوو ژوند هميش په جهل اوتيارو کي
عادت زمونږه لافی هم نفرت او جهالت
صرف چيغی دغيرت، نه کړو له جهله خجالت
وطن چه په مونږ ګران دی نو يی ولی کړو تباه
راځی چه سترګی خلاصی کړو او ترړو خپل ملا
مقصد د ښمنانو کړو بی ډاری بر ملا

جنګونه کوو مونږ پرمختګ کړی پاکستان
وطن خپل ورانوو آبادوو ايران
وطن سره دښمن يوو ، دښمن ته خپل عزت کړو
دا څه رنګ فلسفه ده چه مونږ خپل ځان نه نفرت کړو
د خپل وطن عزت کړه ، چه نور وکړی عزت ستا
راځی چه سترګی خلاصی کړو او ترړو خپل ملا
مقصد د ښمنانو کړو بی ډاری بر ملا

نور گوره لاس په لاس دي  نفاق زمونږ عادت دی
څما قوم بی گناه ، دا بل قوم ملامت دی
راځی چه لاس په لاس شو دښمن ته ټول افغان یوو
نفرت په یوبل بس کړو دیوی خاوری بچیان یوو
تویك په ځای قلم  نفرت پـــــه ځای خنــــدا
راځی چه سترگی خلاصی کړو او ترو خپل ملا
مقصد د دښمنانو کړو بی ډاری بر ملا

ډالر په بوجي راغلل وطن پري آباد نه شو
له غلا او رشوت  نه وطن هیڅ آزاد نه شو
د غلا په پیسو حج  ته ، روان دي چه حاجي شي
خدای پاك ښه مو وینی په ریا به څه راځی شی
د خدای لپاره بس کړی "محب" واي گناه
راځی چه سترگی خلاصی کړو او ترو خپل ملا
مقصد د دښمنانو کړو بی ډاری بر ملا

***

محب الرحمن  « خطیبي »

بازگشت به صفحه اصلی    www.said-afghani.org